# د ولايتي ښاروالیو د سرحدونو شاته

## د ولسواليو ښاروالی د ښاری ملی جوړښت مهمه برخه تشکیلوی

د مباحثی دا پاڼه د افغانستان د ولسوالی ښاروالیو په هکله څیړنه کوی. دا پاڼه د ۲۸ ولسوالو ښاروالیو څخه په تر لاسه شویو معلوماتو باندی رڼا اچوی. له لاس ته راوړل شویو معلوماتو څخه ښکاره کیږی چی د افغانستان له نیمایی څخه زیاتی د ولسوالی ښاروالی د ولایتی ښاروالیو څخه غټی دی او ډیر اعتبار لری خو له دی سره سره د ولسوالو ښاروالی تشکیل او ظرفیت د دوی د رشد سره برابر پرمختګ نه کوی. له نه د دا ظاهریږی چی څومره مهمه ده چی مونږ باید د خپلو ښاری پروګرامونو او محلی حکومتوالی په اړه په پریکړو کی د ولسوالو ښاروالی شریکی کړو. پریکړی او فیصلی باید د ښاروالیو د نفوس او پرخوالی په نظر کی نیولو سره وشی نه صرف د اداراتی تعریفونو پر بنا .

دويمه مباحثي پاڼه، دويم جلد، جنوری ۲۰۱۶

### د ښاروالیو بنه یا جوړښت

افغانستان د ۱۵۰ څخه زیاتی ښاروالۍ لري. په دی کی ۳۴ د ولایتونو ښاروالي دي چی د خپلو ولایتونو مرکزونه دی او دا هغه مرکزی ښارونه دی کوم چی د افغانستان د ښارونو د وضعیت پروګرام د ۲۰۱۵ کال په راپور کی په تفصیل سره څیړل شوی وی. همدارنګه په افغانستان کی ۱۲۰ دولسوالیو ښاروالي دی چی د خپلو ولسوالیو مرکزونه دي. دا ولسوالي ښاروالي مرکزی ښاروالیو په اندازه مهمی دي خو ډیر کم خلک د دوی د اهمیت څخه خبر دي.[1]


د ولسوالیو ښاروالی او ولایتی مرکزی ښاروالی یو رنګه قانونی بنیاد لری چی د ښاروالیو په قانون کی طرح شوی دی (کال ۲۰۰۰).[2] د افغانستان اسا سی قانون دوهم فصل او وومه ماده دا ده چی دولت باید په هر ولایت او هره ولسوالی کی ښاروالی جوړه کړی او د ښاروالیو د جوړښت په وخت کی دی دا شرطونه په نظر کی ونیول شي: (۱) هرولایت یا ولسوالی چی د ۵۰۰۰ نه ډیر نفوس ولري، (۲) هر ولایت یا ولسوالی کی چی ماستر پلان تطبیق کیدل ممکن وي.د هری ولسوالي مرکز چه غواړی هغلته دی ښاروالي جوړه شي باید پورتنی شرطونه یی پوره کړی وی او د والي او د سیمییزو ارګانونو مستقلی اداری ته د ښاروالی د جوړښت مکتوب وړاندی کړی .[3] د ښاروالیو معینیت ، چی د سیمییزو ارګانونو مستقل اداری ترچتر لاندی کار کوی، مسؤلیت لري چی د ولسوالی ښاروالی رهنمايي وکړی.

### ټولی ښاروالي برابری نه دي

د ولسواليو ښاروالي په نفوس، مساحت، او عملی توګه د یو بل څخه ډیر تو پیر لری . د ښاروالیو معینیت ۲۵ ولسوالۍ ښاروالی ,ستراتژیکی، بللی دی او په لاندنی اساس یی بیلی کړي؛ (۱) د ښاروالی د پراخوالی ظرفیت ؛ (۲) ښاروالی عایدات؛ او(۳) جغرافیایي موقعیت (د مثال په توګه مهم سرحدی ښارونه).[4] همدارنګه یو شمیر نوری ستراتژیکی ولسوالی ښاروالی د ښاروالیو د معینیت لخوا مشخصی شوی دی چی یا د کابل، هرات، کندهار، مزار او جلال آباد د ښاري منطقو ساحه کی دننه موقعیت لري او یا د ملی حلقوی سړک پخوا کی پرتی دي (لطفاً د مباحثی اوله پاڼه وګوری).[5] لاندینی نقشه د هغو ۲۸ د ولسوالی ښاروالیو ځرګندونه کوی چی د افغانستان د راتلونکی پروګرام څخه تحلیل او تجزیه کیږي.

د ۲۸ ولسوالي ښاروالي د مختلفو دلیلونو پر اساس مهمی دی. اول ، د ۲۸ ولسوالیو ښاروالي د افغانستان په اقتصادی پرمختیا کی مهم رول لوبوی او د تجارتی هلو ځلو لپاره افغانستان د همسایه هیوادونو سره تړی، د مثال په توګه د تورخم او اسلام قلعه ښاروالي، چی د ۲۸ ولسوالي ښاروالیو څخه دوه ښاروالي دی، افغانستان له پاکستان او ایران سره تړي. دوهم، دا ولسوالی ښاروالي د امنیت له اړخه هم ډیری مهمی دي، لکه څنګه چی د کندز سقوط ښکاره کړل چی د مرکزی ښاروالی امنیت لپاره د منطقوی ولسوالی ښاروالیو جوړښت او امنیت ډیر زیات اړتیا دی. دریم، د ولسوالی ښاروالیو د ښاري – کلیوالی ساحو تر منځه یو مهمه اړیکی دي او د زراعتی موادو په داخلی او خارجی ترانزیت کی مهم رول لوبوي.

څلورم، هغه ولسوالي ښاروالي چی لويو ښارونو ته نږدی موقعیت لري، لکه د انجیل ولسوالي ښاروالي چی هرات ښار ته نږدی پرته ده، له مرکزی ښار څخه چټکی سره ښاري کیدو فشار کمولی شی او د لویو ښارونو پلان شوی پرمختیا ته زمینه برابروی .




### د فضای عکسونو د تجزیی څخه لومړنی معلومات

د افغانستان د ښارونو راتلونکی پروګرام د ۲۸ ولسوالی ښاروالی د فضاي عکسونو په ذریعه تجزیه کړی لکه چی د افغانستان ۳۴ ښارونه د افغانستان د ښارونو د وضعیت پروګرام لاندی تحلیل کړی وو.[6] د افغانستان د ښارونو راتلونکی پروګرام د قمری عکسونو له تحلیل څخه دولسوالیو په ښاروالیو کی د کورونو شمیر او د ځمکی څخه د ګټی اخیستلو ارقام لاس ته راوړل کیږی. د لاسته راوغلو معلوماتو څخه دا خبره واضح او ثابتیږی چی د ولسوالیو ښاروالي د نفوس او د ځمکی څخه د ګټه اخیستلو په لحاظ ډیری مهمی دی. دا لاسته راوړل شوی معلومات به د دولت سره په صحیح پریکړو کی کمک وکړی.

#### مهمی لاسته راوړنی

د بعضی ولسوالیو ښاروالي د نفوس او آبادی شوی ځمکی د ساحی له مخی د ډیرو مرکزی ښاروالیو څخه لویی دی. د مثال په توګه د سپین بولد ک د ولسوالی ښاروالي تخمینی نفوس ۱۲۰۰۰۰ دی چی د ۲۱ مرکزی ښاروالیو څخه لوی دی او د افغانستان څوارلسم ستر ښار دی. داسی معلومات د افغانستان د ښاری کیدو په هکله د مرکزی ولسوالیو په باره کی د مهمو نظریاتو دوهم ځل کتنی ته وړاندی کړی .

[1]A B Popal (2014) Municipalities in Afghanistan. IDLG: Kabul. "A total of 181 municipalities are on record at GDMA, but some are not functional due to a lack of security in rural areas, or because they cannot generate enough revenue to operate." p.22

[2]UN-Habitat (2015) Municipal Governance: a vital piece of the sub-national governance puzzle. Discussion Paper #7; UN-Habitat: Kabul. http://unhabitat.org/municipal-governance-a-vital-piece-of-the-sub-national-governance-puzzle/


[3]The draft new Municipal Law addresses this issue of establishing municipalities and uses the same criteria as the existing law. The Sub-National Governance Policy, however, suggests that a municipality has a minimum land area of 50km² and a minimum population of 20,000.

[4]22 of these are included for analysis in FoAC. Three (Garmsir (Helmand); Khashrod (Nimroz) and Aaqine (Faryab)) are not included as they are smaller and not part of the five 'city regions' of FoAC.

[5]Six are included in FoAC, including the District Municipalities of Shakardara (Kabul), Merbacha Kot (Kabul); and the district centres of Panjwai, Zeray and Arghandad (Kandahar); and Hayratan (Balkh).

[6]GoIRA (2015) The State of Afghan Cities 2015. GoIRA: Kabul. http://unhabitat.org/books/soac2015/

د افغانستان د ښاروالیو جغرافیایي هوایي جوړښت:




د دی ولسوالی ښاروالیو د تشکیل له تجزیه کولو نه دا معلومیږی چی په دی ولسوالی ښاروالیو کی د تشکیل جوړښت د ښاروالیو د مساحت او اهمیت له مخی نه دی شوی. د مثال په توګه د شین ډنډ ولسوالی ښاروالی، چی په هرات ولایت کی موقعت لری، تقریباً ۵۷۰۰۰ نفوس لری چی د کونړ ولایت مرکزی ښار اسعد آباد سره برابر دی. مګر د شینډنډ د تشکیل تعداد ۲۵ دی ( ۷ کارکونی او ۱۸ قراردادی پرسونل ) خو د اسعد آباد د تشکیل تعداد د شینډنډ د تشکیل څخه له دوه چنده هم ډیر دی: ۶۴ ستاف (۲۴ کارکونی او ۴۰ قراردادی).[7]

د دی ولسوالی ښاروالیو ځمکو څخه ګټه اخستنه د دی ښاروالیو په موقعیت او رول اړه لری. ولسوالی ښاروالی چی مرکزی ښاروالیو ته نږدی موقعت لری ، لکه د انجیل او ګذری ولسوالی ښاروالی چی د هرات ښار ته نږدی پرتی دی، شکردره چی کابل او ارغنداب چی کندهار ښار ته نږدی پراتی دی، د تشو پلاټونو یوه لویه ساحه ده، چی لویو ښارونو ته نږدی د رهایشی ځمکو لویه تقاضا ښکاره کوی.[8] د سرحدی ښارونو د ځمکو یوه لویه حصه د دولتی ودانیو خصوصاً ګمرکاتو لپاره استعمالیږی. ولسوالی ښاروالي چی د مرکزی ولسوالیو او ښاری منطقو څخه لری پرتی دی، لکه شین ډنډ او خولم (بلخ) ښاروالی، د زراعتی مرکز رول لوبوی، او ځمکی څخه ګټی اخستنی یوه لویه حصه په رهایشی او زراعتی ځمکی تشکیلوی ده خو د دولتی او تجارتی ګټه اخستنه پکی لږ ده. په دی ولسوالی ښاروالیو کی تقریباً ټول کورونه په غیر منظمه توګه جوړ شوی دی. ډیر لږ کورونه داسی دی چی په منظم توګه وی او یا د غرونو په سر جوړ شوی وی.

## د ولسوالیو ښاروالی

لاسته راوړلی شوو معلوماتو پراساس کوللی شو چی د ولسوالی ښاروالیو طبقه بندي وکړو. په معلوماتو سره کولی شو چی دا ولسوالی ښاروالی په ښه توګه وپیژنو چی د دی پیژندل به د ښاری لومړیتوبونو له املی پروګرام، ملی پیوستون پروګرام او دا رنګه له نورو پروګرامونو سره د پالیسی په جوړښت کی کمک وکړی.

سرحدی ښارونه، لکه د اسلام قلعه، تورخم، سپین بولدک او تورغونډی ولسوالی او نور چه د دی ښارونو له ځمکو څخه یوه ډیره لویه برخه دولتی ده چی د ګمرکاتو او داسی نورو اهدافو لپاره استعمالیږي. د دی ښاروالیو عایداتی بنسټ د سل زره نفوس، ډیر زیات دی. دا ښارونه خپل عایدات د دولتی ځمکو او جایداد په کرایی او اجاری لاس ته راوړی .

**ښاری ترویج:** لکه انجیل، شکردره، جبل سراج او ګذره . دا ولسوالی ښاروالي لویو ښارونو ته نږدی موقعت لری (لکه هرات او کابل ښارونو ته) او د ښارونو د لوړوالی رول لوبوی. لکه څنګه چی پورته ذکر شو، یعنی ولسوالی ښاروالي، د خپلو ځمکو لویه برخه د صنعتکاری له پاره بیلوی اخلی، او ډیر خالی ځمری لری. په دی ښارونو کی د ځمرو لپاره تقاضا ډیره ده ځکه چی دا ولسوالی ښاروالی لویو ښارونو ته نږدی پرتی دی.

زراعتی مرکزونه، لکه خولم، بلخ، شنواری، او د شینډنډ ولسوالي چی په حلقوی سړک پراته دی او د ولایت د مرکزی ښارونو څخه لری موقعت لری د نورو ولسوالیو لپاره د یو مرکز حیثیت لری خصوصاً د زراعت، تجارت او ترانزیت لپاره.

[7]GDMA (2014) An Assessment of Municipalities. IDLG:GDMA. Annual average between 2012-2014.

[8]'Vacant plots' is defined in the same way as in the State of Afghan Cities 2015 Report. GoIRA (2015) The State of Afghan Cities 2015. GoIRA: Kabul www.unhabitat.org/books/soac2015

# د ولایتي ښاروالیو د سرحدونو شاته

لاندې جدول د استراتیژیکو ولسوالیانو او د ۳۴ ولایتونو د مرکز په مقایسه تخمیني نفوس ښیي.

## د ولایتونو مرکزونه

| ترتیب د کور په اساس | د کورونو شمیر | آباد شوي کورونه (هکتار) |
|---|---|---|
| کـــابل | 39,6095 | 40,143 |
| هرات | 89,790 | 9,476 |
| مزار شریف | 77,615 | 7,546 |
| کندهار | 61,902 | 11,291 |
| جلال آباد | 39,586 | 5,481 |
| لشکر گاه | 30,709 | 6,122 |
| کندز | 29,877 | 3,059 |
| تالقان | 28,691 | 2,781 |
| پلخمری | 24,586 | 4,373 |
| شبرغان | 19,511 | 3,237 |
| زرنج | 17,878 | 2,158 |
| میمنه | 16,560 | 1,500 |
| غزنی | 15,931 | 3,335 |
| خوست | 11,787 | 1,870 |
| چاریکار | 10,671 | 1,304 |
| فیض آباد | 10,605 | 1,485 |
| ترینکوت | 7,956 | 1,255 |
| گردیز | 7,849 | 1,796 |
| قلعه نو | 7,125 | 777 |
| ایبک | 6,983 | 787 |
| اسد آباد | 6,350 | 695 |
| سر پل | 5,675 | 711 |
| محمود راقی | 5,610 | 514 |
| قلات | 5,462 | 937 |
| فراه | 5,299 | 1,831 |
| بامیان | 4,435 | 635 |
| مهتر لام | 3,661 | 710 |
| فیروز کوه | 3,474 | 669 |
| بازارک | 2,747 | 168 |
| پل علم | 2,546 | 710 |
| نیلی | 1,994 | 239 |
| شاران | 1,739 | 1,472 |

## د ولسوالیو ښاروال

| | د کورونو شمیر | آباد شوي کورونه (هکتار) |
|---|---|---|
| سپین بولدک | 16,899 | 3,433 |
| اندخوی | 10,303 | 2,061 |
| انجیل | 10,296 | 665 |
| ناجر سرای | 9,755 | 1,367 |
| آقچه | 8,456 | 1,091 |
| شیندن | 7,733 | 715 |
| امام صاحب | 6,926 | 757 |
| گذره | 6,926 | 2476 |
| غوریان | 6,239 | 1245 |
| روستاق | 6,089 | 862 |
| بغلان مرکزی | 5,714 | 978 |
| خان آباد | 5,608 | 689 |
| شکردره | 5,518 | 766 |
| خلم | 5,211 | 715 |
| شینواری | 5,149 | 616 |
| قره باغ | 5,133 | 416 |
| بلخ | 5,095 | 750 |
| میر بچکوت | 4,341 | 407 |
| اسلام قلعه | 4,265 | 859 |
| جبل السراج | 3,986 | 639 |
| ارغنداب | 3,087 | 692 |
| زره | 2,694 | 486 |
| تورغندی | 2,663 | 338 |
| پنجوای | 2,222 | 850 |
| سروبی | 2,135 | 282 |
| شیر خان بندر | 1,833 | 343 |
| حیرتان | 1,444 | 852 |
| تورخم | 876 | 344 |

[9] Cities Alliance (2014) Managing Systems of Secondary Cities. Cities Alliance: Brussels.
[10] Boex, J., Buencamino, G., and Kimble, D. (2010) An Assessment of Afghanistan's Municipal Governance Framework. IDG Working Paper No 2011-03. August 2010.

د ولسوالی ښاروالیو طبقه بندی کول ځکه مهم دی چی هره یوه ولسوالی باید د خپل ظرفیت او کمښت په اساس مخصوص پروګرام او د پروګرامونو لومړیتوبونه ولری. د مثال په توګه د ولسوالیو ښاروالی باید د ښارونو ستراتژیکی پلانونو ته اولویت ورکړی او د نږدو لویو ښارونو سره دی دا پلانونه شریک کړی چی د اوسیدو لپاره د ځمکی په ورکولو کی آسانتیا وی راشی او د ښار د غیر پلانی پراختیا څخه مخنیوی وشی خصوصاً کله چی ښاری کیدل زراعتی ځمکو ته ضرر رسوی. د ولسوالیو ښاروالی , سرحدی ښارونه، باید د امنیت د ښه کیدو لپاره ستراتژیکی زیر بنایی پانګه اچونی ته اولویت ورکړی. همدارنګه د ولسوالی ښاروالیو ,زراعتی مرکزونه، برخه باید ساحوی او منطقوی ما رکیتونه د زراعتی تولیداتو په رسولو کی آسانتیا برابری کړی او دی کار ته باید لومړیتوب ورکړل شی.

## راځی چی بیا فکر وکړو

له لاس ته راوړل شویو معلوماتو نه دا خبره ظاهریږی چی مونږ باید خپل فکر ته تغییر ورکړو او ښاری ساحه په تنها کابل او نورو لویو ښارونو پوری محدوده نه کړو. یو مهم سوال دا دی چی څنګه کولای شو د ولسوالیو د ښاروالیو ملاتړ وکړ.


د افغانستان د ښارونو فضای جوړښت ته په ډیر غور و فکر سره کتل پکار دی خصوصاً متوسطو او کوچنیو ښارونو ته. بین المللی تجاربو دا ښودلی دی چی د ښاری کیدو ښه بڼه ، د ښار غیر منظم جوړښت اثرات کمولو لپاره او په چټکی سره د ښاری کیدو ښه سرښتی لپاره منځنی او کوچنی ښارونه ډیر مهم رول لوبوی.[9]

د افغانستان د ښارونو ملی لومړیتوب پروګرام کوم چی د ودی او پراختیا په حالت کی دی باید د افغانستان فضایی جوړښت او د ولسوالی ښاروالیو اهمیت په نظر کی ونیسی چی دا پروګرام صرف د کابل یا د غټو ښارونو لپاره نه بلکی د افغانستان د ټولو ښارونو ملی پروګرام وی . دی نه علاوه د ملی پیوستون ښاری پروګرام باید په لویو ولسوالی ښاروالیو کی هم تطبیق کړی شی ځکه دا ولسوالی ډیر ښارونو ته ورته اود کلیو په شان ندی .

مونږ کولی شو چی د سیمییزو ارګانونو د خپلواکی اداری او ولسوالیو ښاروالی تر منځه سیاسی او ادارای روابط قوی کړو.[10] د ښاروالیو د خپل منځی اړیکی د ښه کولو فرصت شته دی خصوصاً د هغو ښاروالیو تر منځ چی د ښاری پراختیا ,د ښاری پرختیا ،د ښاروالی د ښاری پلانونو او د فاضلاب په مدیریت کی له یو بل سره مرسته کولی شی. د ښاروالیو تر منځه د نظراتو تبادله، چی تر خپل منځ خپلی تجربی او مهارتونه شریک کړی، ډیره ګټوره او موثره ثابته شوی ده خصوصاً هغلته چی کله ولایتی ښاروالی د سیمییزو ارګانونو د مستقلی اداری او نورو کوچنیو ولسوالیو تر منځ مهم رول و لوبوی.

### انکشافی تسمه د کابل نه تر جبل سراج پوری

دا نقشه د کابل ښار نه تر جبل سراج پوری، چی یو ولسولای ښاروالی ده، فعلی زمینی حالت ښکاره کی.




## راتلونکی تګلاری:

- د ستراتیژیکو ولسوالیو د ښاروالی د ښاری پولی مشخص کول ترڅو ښاری پلانونه په ښه بڼه ترتیب او تنظیم شی.
- د ولسوالیو ښاروالی په باره کی د خلکو د نظریو بدلول چی د ولسوالی ښاروالی د ښار ی جوړښت یوه برخه وګڼی او په ښاری پروګرامونو کی شامل کړای شی (د مثال په توګه د ښاری ملی پیوستون پروګرام برخه).
- یو ملی ښاری هر اړخیز پلان ( دخلکو په پراخ مشراکت ) جوړ شی او د افغانستان ښارونو ته دی د ښارونو د زنځیر په توګه وکتلی شی چی په دی زنځیر کی به د ولسوالیو ښاروالی شاملی وی.
- د ولسوالی د ښاروالیو د ظرفیت لوړول او د ښارونو تر منځ قوی اړیکو بر قراره ول.
- د لویو ښاروالیو په نسبت د کوچنیو ولسوالی ښاروالیود لږ تشکیل ستونځی دی په غور وڅیرلی شی او د حل لاری دی ورته په ګوته او عملی شی
- د ټولو ښاروالیو لپاره دی د کار کولو معیار ی تګلاره جوړه او عملی شی او د ولسوالیو ښاروالی دی په نوموړی تګلاری کی شاملی وی.

د افغانستان د ښارونو راتلونکی پروګرام د ښاری لومړیتوب د ملی پروګرام په انکشاف کی کمک کوی چی دا به را روانه لسیزه کی د افغانستان د ښاری لومړیتوب برخه وی دی لومړیتوبونو کی به د افغانستان د ښارونو راتلونکی پروګرام ۵ ښاری زونونو او ۲۰ ستراتیژیکو ولسوالیو ښاروالی تحلیل او تجزیه کیږی چی مهم معلومات او دقیق ارقام به لاس ته راشی اود موثری پالیسي او ملی پروګرامونو په ترتیبولو کی به ورانديزونه وشی .

The Future of AFGHAN CITIES Programme

UN-HABITAT FOR A BETTER URBAN FUTURE

British Embassy Kabul

Australian Government

© ۲۰۱۶ دغه مباحثي پانه یوازی د غیر تجارتی موخه لپاره د ملګرو ملتونو د بشر د میشته کیدنی پروګرام په لیکل شوی ژمنی سره امکان لری چی تکثیر، انتقال او یا د بیا پیدا کیدو سیستم کی وساتل شی. کوم تعریفات، څیرنه، نتیجه ګیری او سفارشونه په دی نشریه کی د ملګرو ملتونو میشته کیدنی پروګرام د لارښوونی شورا ، د دی پروګرام د غړو هیوادونو او یا د افغانستان، استرلیا او انګلستان حکومتونو د نظریاتو ښکارندونی نه دي.